آنها از خاد پول گرفتند گزارش هاي بدست مارسیده بود که یکبار (۹۶۰) ملیون پول به آنها توزیع شده بود. آقاي فاضل درقرارداد (۹) ماده یي که باآقاي مسعود امضاکرده بود گفته بودکه درانتخابات هرقدر پول ضرورت شد تنها در اختیارما بگذارید .

وبعد شوراي عالي نظارت نگذاشت انتخابات دروقت زمان دایر گردد تاخیر انتخابات باعث تشویش و ناراحتي مردم شد.

تظاهراتي رابراه انداختند ،خواستند که سرنوشت حزب تعین شود . تظاهرات به خشونت گراید که در این خشونت هم دقیقاً آقاي فاضل دست داشت.

زیرامدت پانزده روزي که تظاهرات آرام جریان داشت مردم خواسته هاي خویش رامي گفتند . ویرمي گشتند .

وي اول میخواست به خانه آقاي بهشتي حمله کنند و او را بکشند که بادرایت محافظین واطرافیان بهشتي این مسئله خنثي شد سرخانه اکبري رفت درانجا هم این مسئله پیش آمد ، زنهاکشته شدند . مردمي که تظاهرات میکردند ،سلاح نداشتند صرف شعار میدادند . اما محافظین آقاي اکبري که مسلح بودند فیرکردند . وزنها کشته شدند زد خورد صورت گرفت ودرنتیجه دو نفرازافراد آقاي اکبري هم کشته شدند این یک مسئله حساب شده بود که آنها به راه انداخته بودند .

وقتیکه نظر همه به این شد که انتخابات باید دایر شود آقاي رباني به صفر محمد که ازتخاراست پنجصد ملیون افغاني داد وآن را در خانه داکتر مهدي گذاشت آقاي کاظمي بمثاز قبولي تعینات آن را به اینطرف نقل داد وبراي هر نفرشوراي مرکزي که به نفع آنها راي بدهد شصت لک افغاني ویک موتر کرونا وعده کردند اماتعداد زیادي درشوراي مرکزي وجود داشت که ازدرایت و بینش سیاسي کافي برخوردار بودند وتوطیه دشمن رامیدانستند زیربارتوطیه نرفتند باوجود تلاش زیاد ومصارف هنگفت گرچه نتوانستند راي بدست آورند اما متوقف نشد.

مسعود باترجمانش وفهیم باپهلوان یحیي شرط زده بودند که درانتخابات داخل حزب وحدت ما برنده هستیم .

با وجود آنکه پول زیادي مصرف کرده بودند ولي شکست خوردند بعد از شکست هم آنها را تشویق کردند که سلاح بخرند نزدیک هفت صد میل سلاح تهیه کردند که پنج صد میل آن رادر غرب کابل درخانه آقاي کاظمي ودوصد میل دیگر رادر چار قلعه جابجا کردند

درجنگي که بین حزب اسلامي وحرکت اسلامي دردارالامان روي داد تعدادي ازنظامیان طرفدار آقاي اکبري در این جنگ شرکت کردند وقصر دارلامان ازدست حزب اسلامي بدست حرکت افتاد واعلان شدکه نیروهاي دولتي موفق شدند.

آنها به این خیانت اکتفا نکردند ، تصمیم گرفتند با همکاري حرکت اسلامي اقدام نظامي نمایند . پول گرفته بودند مهمات خریده بودند با اتحاد سیاف وشوراي نظار تفاهم نموده بودند که آنها نیز وارد جنگ شوند ، به سیاف ومسعود گفته بودند که شماسعي کنید قضیه افشار دوباره تکرار نشود .

مردم اسیر وخانه هاي شان چور نشود تاما درآینده بتوانیم در بین مردم زندگي بکنیم ماحاضر هستیم که نیروهاي نظامي فلاني (آقاي مزاري) سرکوب شوند دریک جلسه سید نورالله عماد هم این مسئله راگفته بود ، آقاي فاضل هم درمشهد گفته بود که عنقریب تحولاتي پیش مي آید مااین موضوع را تحت نظر داشتیم گزارشات دقیق از جریانات داشتیم ولي زمان اجراي آن راکشف نکرده بودیم

ادامه دارد

پر مجاهدینو دکمونستانو ملنډې

مجیب

له هغې ورځې را پدیخوا چي د شوراي نظار ډلې مشر احمدشاه مسعود د رباني اوسیاف په مشوره دقدرت نیولو دتوروموجاهدینو دحقوقوغصبولوپه خاطردکمونستانو سره په جبل السراج کي ناولي ائتلاف لاسلیک کړ . له همغې ورځې څخه تردانن ورځې پوري چي دتیر کمونست رژیم دجنرالانو اوافرادو لخوا کومي ملنډې پر مجاهدینواوزمونږپرمؤمن اومجاهد ولس وهل کیږي ،نه یواځې چي دکمونستانو ددغوملنډو وهلوپه مقابل کي دکابل ائتلافي اداري مشران چوپه خوله پاتي دي بلکي دجبل السراج د لوظنامي په اساس ائتلافي مشران ، د کمونستانو دهري پریکړې اوهر یوي ملنډي که څه هم هغه زمونږ دجهاد دبرم او پرتم لوړه شمله دکمونستانو ناولوپښولاندي غورځول وي اوبیا که ، هغه پښې پیلې اوسرتوري مجاهد چي کلونه کلونه دهمدغو کمونستانو له لاسه پرغرو رغو گرځېدلي اودخپل ایمان اوعقیدي پرېنایي تږولي ناخوالي په پوره صبراواستقامت زغملي او دخپلو بې شارو قربانیو په لړکي یې بالاخره کمونستان دي ته اړکړي چي دهمغه پښې پیله مجاهد په وړاندي سلامي شي ، اوس که دغه کمونستان له همغه مجاهد نه دخپل غچ اخستلو په خاطر هغه رټروي ،تحقیروي اوملنډې پري وهي دکابل ائتلافي اداري مشران دکمونستانو پر دغو کړووړو دتائید مهر لگوي په دي غرض چي دکمونستانو خاطر زړه بدي نشي ، دتعجب ډېر خبره داده چي دا وه پنځوسم کال دغوایي له کودتا وروسته دیواویا بم کال دثور تر پنځمې نیټې پوري خوارلس کاله دجهاد په اوږدو کي هغه پښې پیله او سرتور مجاهد له کمونستانو څخه پوه مسلمان وطندوست اوهغه کړه وړه داسلامي اصولو سره برابر وو خو کله چي دکمونستانو سره مسعود – رباني اوسیاف ائتلاف وکړ نن له هغه خوارلس کلن مجاهد څخه کمونستان پوه وطندوست او هم یې کړه وړه داسلامي اصولو سره برابر دي .

داچي په دا دوه نیمو کلونوکي کمونستانو دکابل ائتلافي اداري تر سیوري لاندي دمجاهدینو دبدنامولو په خاطر ډېر جنایات سرته ورسول اوبیا یې دخپلو کړو جنایاتو پړه پرمجاهدینو واچوله خو پردې یې هم زړه یخ نشو نو په دي وروستیو ورځو کي یې دمجاهدینو دلاتحقیر ولوپه خاطر بله ملنډه وهلي اوهغه داچي کمونستانو دجنرال بابه جان په مشري دکابل ائتلافي اداري مشرانو ته وړاندېز وکړ چي دکابل ښار امنیت مجاهدینو خراب کړي او خلك له هغوي نه کرکه اونفرت لري نو بایده*مونږ ته امرراکړي ترڅو دهغوي کړه وړه اصلاح کړو چي پداسي کولو سره به له کابل ښار نه وحشت اوبې امنیتي بالکل ورکه اوپښپه امنیت ټینگیداي شي .

د کابل ائتلافي اداري مشران چي دخپلې کړي لوظنامي پر بنا مجبور دي چي دکمونستانو هر فرمایش ومني نو ځکه یې پردي خبره له هغوي (کمونستانو) سره توافق وکړاو بیا یې پر مجاهدینو ددغې ملنډي داجرا کولو فرمان دجبل السراج راډیو له لاري خپور کړ اوس دجنرال بابه جان کمونستان (دگارنیزیون افراد) دکابل ښار په سړکونو اوځلور لاروکي ولاړ دي اومجاهدین دغه درباني صیب په زعم دکابل ښار دامنیت مختل کوونکي سپکوي دهغوي پر کارنامو ملنډې وهي او له کابل ښارنه یې وباسي خوکه دغه غیر انساني سلوك په وړاندي ——

کوم مجاهد دکمونستانو دملنډووهلومخه نیسي او مقاومت کوي دا تور لگول کیږي چي گواکي دا داسلامي دولت له مخالفینو نه دي نو خداي (ج) خبر چي دهغه سرنوشت به بیا څه وي !!!

څرنگه چي مخکي موږویل دکمونستانو دغه ملنډې وهل مجاهدینو پوري له هغې ورځې نه چي دشوراي نظار بدنام باند له هغوي سره ائتلاف وکړ شروع شوي او دهمدغو قدرت لیواله مجاهدنما څېرو (مسعود – رباني اوسیاف) کار دي چي دغه فرصت یې هغه هم پسې له رسوا ماتې او په حتمي مرگ محکومو کمونستانو ته یو ځل بیا په لاس ورکړ ترڅو هغوي داسلامي حکومت ترنامه لاندي له مجاهدینو . دخپلو څوارلس کلنو عقدو غچ واخلي.

نو موږ دغه دکابل ائتلافي اداري مشرانو ته وایو چي آخر تاسي خو دجهاد غړ. دکمونستانو په مقابل کي اوچت کړي و اوبیل داچي دهمدغو کمونستانو دلاسه تاسي هم څوارلس کاله ډېري ناخوالي وليدلي ، همدغه پښې پیله مجاهدین ووچي تاسي یې نننې حالت ته راورسولي ، که دهمدغو مجاهدینو جهاد اوقرباني نه واي نو تاسو خو په خپل کور اوکلي کي هم چا نه پیژاندلي ، دهمدغو مجاهدینو له برکته دي مرحلي ته رارسیدلي یاست چي نن مو پري خپتې اچولي خو بیا هم دغه مجاهد د هغوي ددېښمنانو (کمونستانو) په وسیله تحقیروي ، رټروي اوددي زمینه ورته مساعده وي چي کمونستان پر هغوي ملنډې ووهي اودکابل ښار پر هغه دوه نیمونا حیوکي چي ستاسي په واك کي دي دخلکو په وړاندي عام محضر کي تحقیرشي ، آیا تاسو چي ځان دمجاهدینو رهبران بولي دغه دمجاهد حقارت خپل حقارت نه گڼي !!

فکر خو لا څه چي دمجاهدینو دمشرانو څخه د داسي کولو څه اټکل هم نشي کیداي چي دارنگه ملنډې به پرځانوووهي څنگه کیداي شي چي دمجاهد کړه وړه او لباس د وحشت سبب وگرځي ، داهسې ملنډې وهل دي چي کمونستان یې پرمجاهدینو وهي اوهمدادقدرت لیواله دکابل ائتلافي اداره ده چي کمونستانو ته ددغو ملنډو وهلو زمینه برابروي .

که څه هم دمجاهد ملت پر ضد اوسپکاوي یکې وي خو بیا هم دکابل ائتلافي*اداره اوائتیوالان یې دتائید مهر پري لگوي اوداجراکولوامر یې ورکوي چي په دي کارسره نه یوازي دخوارلس کلن جهاد پرتنده توروداغ لگول بلکي دگرد ملت افتخارات تر پښو لاندي کول دي.

مژگان در اروپا

ذبیح الله فهیم (الکوزي)

چندي پیش به خانه یکي از دوستان خویش که مدتي مي شود ازکابل آمده درپشاورزندگي مي کند رفتم یک پسر ویک دختر این خانواده دراروپازندگي مي کنند .درنزدیک دروازه خانه هایشان

ایستاده بودم که آواز بلبارد بگوشم رسید با خود گفتم شاید که غلط کرده باشم اینجا خوکلپ بلبارد است آخرالامردروازه راتک تک زدم، دروازه برویم باز شد و دیدم دختري بالباس کاملاً اروپایي با لسان نیمه انگلیسي وفارسي ازمن سوال کرد که شما کي هستید ! من خود رابرایش معرفي کردم وگفت : Sorry یعني عفومي خواهم. بداخل رفتم مادرش بامن احوال پرسي کرد بعدازاحوال پرسي با هم نشستیم ومادرش سخن رااینطورآغاز کرد

وبچیم دربشت دروازه البته بسیار انتظارکده باشي بخاطریکه بامژگان جان مصروف بلباردبودم ، متحیرشدم وگفتم بلبارد : گفت ! بلي بچیم قبل ازآمدن مژگانک قند م دریک قطعه خط ارسالي اش ازامریکاگفته بود که مادرجان تا وقت آمدن مه یک تخته بلبارد تیار خریداري کني ازاینکه مژگان قندم خفه نشوه رفتم یک تخته بلبارد خریدم تااینکه بعداز یک هفته مژگان قندم هم از اروپا آمد وهمي نیم ساعت پیش از آمدن خودت مژگان بسیار خفه نشسته بود وبراي سه ماه رخصتي ازاروپا آمده تا حال ازرخصتي اش چند هفته مي گذرد خوبسیارخفه است وازاینکه بسیار دق نباشد روزانه همرایش چند ساعت بلبارد مي زنم .ازشنیدن این قصه تمام بدنم ازعرق پرشد وحیران ،حیران بسوي مادرودختر دیدم تا اینکه مادرش دوباره رشته سخن را آغاز کرده وگفت ؛ بچیم مژگان جان راتوبسیار پیش دیده بودي شاید ایره نشناخته باشي اي خو بسیار دخترك نازدانهٔ مه است ، درطفلي بسیار شوخ بود خدا قدمك هایشه دبگام نیك کند.

دربین سخنان اش دفعتاً گفت راستي تورفیقاي مژگان جان را دیدي یا نې؛ گفتم نخیربه مژگان گفت قند مادرهمرالبومي راکه عکس هاي توورفیقاي قند ولك اروپایي ات در او است ازبکس بیار .مژگان گفت اومادرازصبح تا حالي بلبارد کردیم بسیار خسته وماندة هستم بکس عین یك متردور است حالي تا یك مترگي مي خیزد مادرش گفت ! خوبشین قندولك خودم مي خیزم .البوم راازبکس کشید وبه آن مي دیدیم ومادراش به بسیار افتخار هرکدام ازرفیق هاي دخترش رابرایم معرفي مي کرد عکسها اگر معرفي نمي شد انسان اصلا فکر نمي کردکه افغاني باشد مادرش گفت؛ دراونجه بسیار سرخ وسفیدوچاق وچله بود خودر اینجه چندین شو است که رفیق هایش رادر خواب مي بینه وکمکي لاغر شده صدقه گك دندان طلایي ات شوم . مادرش درمعرفي عکسها تام یکي از رفیق دخترش راغلط کرد ومژگان دفعتاً گفت : مادرچقدرکورمغز استي ایره خوبریت گفتم که "شکیل جان" عزیز ازایالت نیوبارك است مادرش دفعتاً ازدخترمعذرت خواست ودرآخر بایك آه طولاني گفت : بخدا تابه حال به توچاي دم نکرده ام.

باش که مه چاي بیارم .گفتم نه خیر چاي نمي خورم دوسه ساعت قبل چاي رانوش جان کردم .

همین که با شما هستم درذات خود قهوه است وگفتم مي خواهم درباره بعضي از چیز ها و اروپاازمژگان معلومات بدست آرم مادرش گفت هزار دفعه مژگان گفت با آنکه بسیار"تابرد" هستم اما باز هم بریت درباره بعضي از چیز ها واروپا "انفارمیشن " میتم .اولین پرسش را چنین مطرح نمودم : مژگان لطفاً بگوئید افغانهاي که درجرمني هستند چي مي کنند چه قسم لباس مي پوشند افغاني ها درنماز وروزه چطور هستند ؟ مژگان خندید و گفت ؛ ایطورسوال مي کني فقط در حزب اسلامي باشي نماز وروزه ره خو حزبیها بسیار سوال مي کنند .

بعداً ادامه داده گفت : یك کار افغانها ده اونجه خوب است که ازخواب غفلت خیستند و مود هاي قدیمي راکنارگذاشتند واوطرف ماندند . گفتم منظورتان ازمودهاي قدیمي چیست ؟ گفت : چه مي میکیشن همو سپورت واري که است نماز مي گین چي مي گین .راستي نماز و روزه ره خوبلکل حسابش را نمي فهمیم که چي وقت است ودرکدام وقت ابودهاي قدیمي در اوغانستان بسیار رواج داشت دراونجه هیچ نیست درباره لباس بریت بگویم که حالي همو «میني ژوپ» رابسیارمردم مي پوشند ورراستي که خوب لباس هم است . مگم دراونجه هم یگان دانه تنگ نظر افغاني پیدامیشه که دختر خوده میگن بچیم از صبح تا یازده بجه شب هرجاي که میري بروموگم یازده بجه .دوباره به خانه بیا. ایني مودهاده اونجه کم کم پیدامیشه هنوزهم درمغز شان خواب غفلت اوغانستان خطورمي کند . ازشنیدن این چنین الفاظ کفر آمیز بدنم ازعرق پرشد وباخودگفتم ازاینکه سخنانم رادرهمین جاخاتمه بدهم خوب میشود . مژگان شروع کرد وگفت ؛

بیادرم به فامیلهاي شماسلام میکفت گفتم اوچراباستفاده از رخصتي نمي آیدـ؟ گفت ولا محیط اوغانستان وپاکستان بلد ذره کثیف است اگربیاید خدانخواسته مریض نشه بخاطراز اي نمي آید خودم ازکثیفي محیط چند روز مریض بودم . اینجه خوبك اندکي خوب است اگرافغانستان آزاد شوه چطور کنیم افغانستان خوبیخي ...... است ازاینکه به افغانستان ... خطاب کرد به خشم شدم لاکن ازحوصله کارگرفتم وچیزي نگفتم وازاینکه درخود حوصله زیاد راندیدیم رخصت خواستم .مادرش گفت : کجامیري که مژگان جان گست نمبر ۱۲ احمد ظاهرجانه خریده امو ره خوبشنو باز برو ؛ گفتم نخیرمي روم که تا وقت است ودر حالیکه بسیارمایوس بودم گفتم خداحافظ.

اعضاي حماس سالروز تاسیس سازمان انقلابي حماس را تجلیل کردند

قرارگزارش یونایتدپرس مسلمانان فلسطین تاکید کردندکه (ساف) باید رسماً مسئولیت کشتارنمازگزاران فلسطیني درغزه، راکه بتاریخ ۱۸ نومبرصورت گرفت به عهده گیرد .

به گزارش رویتر،الفوزي یك مقام عالیرتبه حماس افزودکه حکومت به اصطلاح خودمختارغزه واریحامسئول مستقیم قتل عام مسلمانان فلسطیني درغزه است .

دشرقي ولايتونو

۲ – سرله نه به مونږ چا ته ددي اجازه ورنکړو چي دولایتونو په نوم طالبان دعوت کړي .

۳ – مونږ خپلې مطالبې په پرامنه فضاکي له جهادي شورا گانو څخه کوو.

٤- د جنوب غرب په نامه چي کوم تحریك پیل شوي هغه غیر قانوني اوغیر افغاني حرکت دي هغه مونږ په کلکه ردوو.

٥ – مونږخپل ملت ته اطمینان ورکوو چي دجنوب غرب حرکت دطالبانو حرکت نه دي دا یوازي طالبان بدناموي اوداناولي خبري به ډېر ژر افشا شي .

دجهاد د اتلانویاد

شهید احمد هجرت "اسلام جار"

شهید عبدالقدیر «هجرت» دشهیدالحاج مفتي عبدالاحد زوي د۱۳۳۰ کال دننګرهارولایت دسرخرود دبیمارانوپه اخوندزاده کلي کي زیږیدلي وپه ۱۳۵۰ لمریزکال دفقرالله دلیسي نه فارغ شوي اوپه ۱۳٤۹ لمریزکال چي لاژده کوونکي وه داسلامي غورځنګ سره یوځاي شوي وُ په ۱۳۵۷ کال کي پیښبورته مهاجراوپه ۱۳۵۸ لمریزکال دکفراوکمونیزم په خلاف دمومندري حوزي دجهادامیر وټاکل شو . ددغه بختورفاتح ترقوماندي لاندي دمومندري زړورو مجاهدینودکامي ، ګوشتي ولسوالي، دلعل پوري علاقداري اوبنیوي ولسوالي زیاتره برخي فتحه کړي تردي وروسته سره رودته دمقدس جهاد دتداوم لپاره ولاړبالاخره دخوګیانوپه ولسوالي سره قلعه کي دهري ځواکونو سره په یوه مخامخ نښته کي د۱۳۵۹ کال دلیندي دمیاشتي په

۲٤ شپه دشهادت وپاړلي مقام ته ورسید . ارواني ښاد ،لارني له لاروورکه اوارمان دي په الهي عنایت پلي شي .

غربیان او روسان په ...

حزب اسلامي په لاس حکومت جوړشي.

ده ویلي چي دنظارشورا د مشرمسعود هغه اوریندونه چي دنجیب رژیم دتسکوریدونه مخکي یي له روسانو سره کري وو .زما ددي خبري ښه ثبوت دي .او اوس د روسانو له خوادنوییانکتوتونو چاپول اودنظار شوراته ددي نوټونو سپارل زمادمخکني خبري دوهم ثبوت دي.

قوماندان محمد قسیم د روانو جګړو په هکله دیوي پوښتني په ځواب کي وویل : په افغانستان کي رواني جګړي تحمیلي جګړي دي اود اجګړي د ائتلافي کمونستانو له خواد افغانستان په مظلوم ملت تپل شوي دي اوائتلافي کمونستان په خاصه دنظارشورا مشر مسعود غواړي چي په ټول افغانستان یوازي دده ولکي خلك حکومت وکړي ده وویل ترڅو چي دمسعود اودهغه سره دهغه دائتلافي انډیوالانو دا انحصار طلبي وي ، نو جګړي به په همدي ډول دوام لري .

قوماندان محمد قسیم په جنوب غرب کي دطالبانو دتحریك په باب وویل مخکي له دي دافغانستان په سیاسي دلوکي د طالبانو دتحریك په نوم کومه ډله شامله نه

وه توسري نشي کولاي چي ددي ولي دجهاد اومبارزي په باب څه ووایي ده وویل زه ګمان کوم چي داتحریك شاید دبل چا په لاس پیل شوي وي اود اکسان مانه ګمارل شوي کسان ښکاري اوهسي دطالبانو له نامه څخه استفاده کوي قوماندان محمد قسیم وویل چي غربي نړي اوروسان .کله چي په افغانستان کي له ناکامي سره مخامخ شول نوبیایي په یو لړتوروتوطیو لاس پوري کړ .بي یو،توطیه هم دهغو توطیو له جملي څخه دجنوب غرب توطیه ده

قوماندان محمد قسیم په پروان اوکاپیسا ولایتونو کي دائتلافي ملیشو دفعالیتونو او له خلکو سره دکړو وړوپه باب وویل : په پروان او کاپیسا کي له کومه وخته چي ائتلافي ملیشو مسلط شوي ، دملك امنیتي او اقتصادي وضع ډیره خرابه شوي ده . اوهلته دنظار شورا پلویان او پخواني کمونستان حاکم دي .اود پروان کاپیسا ، خلکو ته ډول ډول توطیي جوړه وي اوهغوي یي دزیاتو ستونزو سره مخامخ کړي.

ده وویل چي د حزب اسلامي په نوم خو

چي په پروان کاپیسا کي هرڅوك پیداکوي هغه نیسي ، بي وسلي کوي یي اوبالاخره یي هم په شهادت رسوي چي غوره مثال یي هم دبګرام دنومیالي قوماندان میرویس ترور دي .

قوماندان محمد قسیم پدي باب چي ستاسو مجاهدین اوس دکابل په کومو ځایونو کي ځاي پرځاي شوي .وویل زه به خپله له یو کندك مجاهد ینو سره دکابل په (۱۲) مه حوزه کي توظیف شوي یم او له هغه ځاي څخه دائتلافي ملیشو د تحمیلي جګړو په مخنیوي کي برخه اخلم

ده وویل زموږ نورمجاهدین دکابل په بیلا بیلو سیمو کي په وسلواله مبارزه لګیادي اودائتلافي کمونستانو بریدونه یوپربل پسي په شاتمبوي .

قوماندان محمد قسیم دافغانستان درواني ستونزي دحل په باب خپل نظر داسي څرګندکړ:

زماپه نظر دافغانستان درواني ستونزي دحل لپاره باید ژر تر ژره یوه مؤقته اداره جوړه شي .

اوبیا وروسته باید ائتلافي اداره هم خپل واك دي اداري ته وسپاري اوبیا ددي اداري ترنظارت لاندي دانتخاباتو له لاري یوسوچه اسلامي حکومت جوړشي.

خواره ترخه

کمیسیون امنیتي شهروباجگیري چپاولگران

حمیدپنجشیري

ملت شریف افغان بهاي گزافي رابه پیشگاه ابرجنایت پیشه گي هاي باندتروریستي مسعود رباني به قیمت مال وجان شان پرداخته اند. خصوصاً پس ازاعمال اجباري جبرسیطره سیاسي رباني وشرکایش نوشت تاریخي ملت مرحله جدیدي ازهرجي گریبهاوشیوه هاي اغواگرانه سادیستي بخاطربلعیدن داروندار ملت به حلقوم کثیف شان بوجود آمد .غاصبان قدرت وسارقین بیت المال بالطایف الحیل وزمینه هاي متفاوت هریك بنوبه خویش گنجینه پربهاي تاریخي ملت رابروزمیاداي شان دزدانه ذخیره نموده اند. ولي درین اواخرکه دیگرچیزي ازعلایم وجودي داشته هاي مادي مردم شریف شهرکابل باقي نمانده بود که تروریستهاي مسعود رباني به بخمابیرند کمیسیون به اصطلاح امنیتي شهرکه اعضاي آن همان سردسته هاي قاتلان حرفوي وسارقین سرشناس دارایي ملت اند تشکیل جلسه داده فقط تعداد محدودي ازافراد پاك نفسي راکه روي معاذیري در صفوف نامقدس شان قرارداشتند تحت پوشش و بهانه هاي افرادمسلح غیرمسوول که واقعاً درسرقت دارایي مردم غیرمسوول بودند ازسرراه شان دورنموده وبه منظور زمینه سازي مرحله دیگري ازاعمال دزدانه شان درمناطق دست نخورده شهرفقط مشتي ازعناصر ولگرد،اوباش ،چرسي،قمارباز، شهوتران ودزدان سابقه دارمورد اعتماد خودشان رادرجاده هاوچهاراهي هاي شهر جابجا نموده اند .

آزارواذیت دوکانداران بوسیله اوباشان، سرقت شبانه منازل مردم ، باجگیري ازاموال تجارتي و دست فروشان، اخذ کمیشن هاي کمرشکن ازمردم بي بضاعت به بهانه هاي این وآن ،آزارواذیت مالکین وسایط نقلیه درمناطق مزدحم شهربخاطر اخذ حق العبور وجریمه هاي غیرقانوني آنها بخاطر پرکردن جیب ها وانجام صدها اعمال ننگین دیگر از وظایف عمده واساسي قاتلان حرفوي افرادوابسته به باند مسعود رباني راتشکیل میدهد .

افراد مسلح فقط حافظ مصئونیت جان ومال مردم اندکه بدون کوچکترین اغماض وتعلل تاآخرین رمق حیات دردفاع قاطعانه ازحریم هستي مادي وروحي مردم مناطق تحت مسوولیت شان آماده هرگونه ایثاروقرباني میباشند نه اینکه درقباي ظاهرفریب افراد مسوول وحافظ منافع مردم چون گرگ درلباس میش چون موریانه پیکرمادي ملت وجامعه را دزدانه به تجزیه وتحلیل برده بدینوسیله دلق خودرا ازرق وکسوت دیگران راسیه سازند .

اثرات و فواید داستانهای ...

داستانهاي انبیاء ومشکلات کار آنها ومقاومت هاي شان رادر برابر اقوام متمرد ولجوج . وپیروزي آنها را یکي پس از دیگري شرح مي دهد تا روح و دل پیامبر (ص) و هم چنان مومناني که دوشادوش او درین پیکار حق وبزرگ شرکت دارند ، هر روز قویتر از روز قبل باشد و مؤمنان مطمئن باشند که پیروزي نهایي نصیب آنها مي شود.

پیروزي حق وشکست باطل : حق وباطل که در حقیقت درمفکوره کاملاً متضاد وآشتي نا پذیراند روي سنت ها ومیتود هایي استوار مي باشند که موجودیت یکي درکنار دیگر ي ایجاب مبارزه ومجادله را میکند . روي این اصل در داستانهاي انبیا ، میخوانیم که پیامبران بادعوت سالم خویش مردم رابسوي توحید و خداپرستي که اساس وبنیاد حق راتشکیل مي دهد ، فراخوانده ازشرك ، بت پرستي وعقاید خرافي باز مي داشتند . امااقوام مستکبرومفسد که جز فساد هدف دیگري درزندگي نداشتند مي خواستند باحرکات لجوجانه جلو دعوت پیامبران راگرفته برعمر ننگین شان ادامه دهند .

چون خداوند (ج) ذات حکیم بوده به مقتضاي حکمتش قوم وملتي را که فاسد شده ازحق دوري اختیارنماید و دعوت ناصحان ومربیان الهي در آنها اثرنکند حیات آنها راخاتمه داده از طریق انقلاب هاي اجتماعي ویاطبیعي زندگي شان رادرهم میکوبد. اقوام گذشته را که باطل رابرحق مي پسندیدند ، هلاك ساخت .

این سنت الهي است که درکشمکش هاي ملت ها وگروه ها حق رابرباطل پیروز ي بخشیده مصیبت ها را ازمیان بر مي دارد.

عوامل موفقیت و تیره روزي : بیان داستان ها درس بزرگ آناني را است که میخواهند . درجوامع انقلاب برپاکرده مردم راازبدبختي هالنجات دهند . انقلابیون مي توانند با تحلیل و ارزیابي عمیق از داستانهاي انبیاء عوامل موفقیت وتیره روزي را دریافته ، باشناخت کلي این داستانها ازعواملي استفاده کنند که باعث سعادت وخوشبختي گردیده ،پیروزي رادرقبال دارد.

پند وعبرت: یکي دیگر از اهداف اصلي بیان سرگذشت پیشنیان بیان درس هاي عبرت انگیز ونکات آموزنده وتربیتي است تامسلمانان ازسرگذشت گذشتگان پند گرفته ،جهت سازندگي خود درهمه ابعاد زندگي از آن استفاده نمایند.

بیان تاریخ واقعي : این سرگذشت هاي عبرت انگیز وتکان دهنده همه عین واقعیت است و کمترین انحراف ازواقعیت وعینیت خارجي درآن وجود ندارد وبهمین دلیل تاثیر این داستانها فوق العاده زیاد است زیرا همه میدانند که افسانه هاي خیالي هر قدر جالب وتکان دهنده تنظیم شده باشند تاثیرآنها دربرابر یك سرگذشت واقعي ناچیز است.

اثبات نبوت پیامبر اسلام (ص) : گذشته از همه داستان پیامبران واقوام پیشین بیان صدق نبوت پیغمبراسلام (ص) بوده ،قرآن مجید را بحیث کتاب خدا معرفي مي کند . این بخاطر آنست که بیان سرگذشت انبیاء واقوام گذشته با همه جزئیات آن جز از طریق وحي از راه هاي دیگري میسر نیست . چنانچه حضرت خداوند (ج) فرموده است " این از خبرهاي غیب است که به توحي مي فرستیم تو هرگز نزد آنها نبودي هنگامي که تصمیم گرفتند ونقشه مي کشیدند » سوره یوسف آیه ۱۰۲ -

عثمان خان ؛ دعثماني امپراتوری ...

دادوارد ، اس ، کریزي دوینا مطابق چي یو تاریخ پوره دي دژوندپه آخروشیبوکي عثمان خان خپل زوي ته په لاندي توګه وصیت کړي ؤ .

«زه په خپل مرګ اندیښمن نه یم ځکه چي تاغوندي زوي لرم ، اودا لاندي ټکوته باید توجه ولري : الف : ماتاته غښتلي اداره اوتخت پریښي دي ب : تل په خپلومادوناتوباندي مهربانه اوسه ، بي له دي چي دین، طایفه او نژاد په نظرکي ونیسي دوي له هرډول پریشاني څخه بچ وساته .

ج : شریعت اوعدالت په ټولنه کي تطبیق کړه .

دکریزي اونورو تاریخ پوهانو له قوله عثمان خان خپل زوي ته وصیت کړي ؤ چي هغه په نوي نیول شوي ښار بروساکي دفن کړي اوهمداشان ورته ویلي یي وو چي دابیارډټولي ترکي امپراتوري مرکزوګرځوي. دتاریخ پوهانو دوینا له مخي په دي کي دنوموړي دوراندیشي اوتیزهوشي نغښتي ده .

هغه دادرك کړي وه چي په «سوګوت» دهغه پخواني پایتخت کي به ځینوخلکوته ددي له امله چي دکونیادسلجوقیانو سره یي اتحاد کړي و، داهیله به ورسره پیداشي چي دده دکورني غړوته زیان ورسوي . مګر په بروساکي دلیري والي له امله به دتوطیي خطر موجودنه وي .

برسیره پردي بروسا داروپاخاوري ته نږدي و اودقوي اردوګانوژوررهبري په موجودیت کي ترکانوته زیان رسول ،عیسویانوته ډیرګران و، له دي امله دعیسویانو له فکرڅخه په منځني اسیا یرغل منتفي کیده ، په بل عبارت دبروساڅخه به مسلمان پوځونه په آرامي سره وکړاي شي چي دبالکان په عیسوي هیوادونویرغل وکړي .

تجاوز ارتش روسیه به جمهوري ...

نفوذ حلقاتي قراردارد که بردوستي باکفاریهودونصارامباهات مي کنند وهرگونه امیدخیري ازاین موسسه ناشي ازناآگاهي خواهد بود .

نقطه قابل تذکربه این ارتباط آن است که مسلمانان تحت ستم عالم باید چشم امیدشان را تنها وتنها به خداوند (ج) وامکانات ذاتي خویش دوخته وبدانند که عزت وشرافت آنان درگرو پابندي به اسلام عزیز وآشتي ناپذیري بادشمنان تاریخي اسلام مي باشد. شاید روس ها به چیچن مسلط شوند ولي اکنون چیچني هاي مسلمان وآزاده دیگرروسیه را به چشم آن امپراتوري شکست ناپذیرشوروي دیروزي نمي بینند وان شاء الله العزیز آن روز دورنیست که جنرالان قاتل وخونخوار روس ازخاك آن جمهوري باذلت وسرافگنده گي فرارنمایندوچون گروموف آخرین جنرال روسي هنگام فرارازافغانستان باخود تعهدکنندکه دیگربه سوي قلمرواسلامي جمهوري چیچن به نگاه بدنه نگرند وبراي یك باردیگرشبه امپراتوري روسیه کنوني ازهم بپاشد وملت هاي محکوم وتحت سیطره روسیه ستمگار به آزادي خویش دست یابند .

داسلامی کنفرانس سازمان سر...

یعني په غیر مستقیم ډول یي دهغه ملاتړ وکړ . په داسي حال کي چي پکار وه یا یي رباني ته هم دعوت نه واي ورکړي او یا د هماهنګي عالي شوري نماینده هم په دي مذاکراتو کي موجود وي ځکه چي واقعاً دولس ملاتړ ورسره دي.

په هر صورت که اسلامي کنفرانس په راتلونکي کي هم د مسلمانانو په درد دردمند نشي ، دمسلمانانو دګټو ساتنه ونه کړي اوهماغسي د نورو د لاس آله شي نو بیا به یي اهمیت نور هم په صفرضرب شي.

اوکه غواړي چي واقعاً د یو سازمان اوبلاك په حیث تبارز وکړي لکه چي ۲۱ کاله پخوا یي توقع کیده نو بیا باید اجرایي صلاحیت ولري پوځ جوړ کړي ، ګډي قضایي محکمي ولري .ګډ اقتصادي اوتجارتي پروګرامونه ولري ترڅو په خپلو غړوهیوادونو نفوذ پیدا کړي او هم دنورو نړیوالو سازمانو سره سیالي اورقابت وکړي ،هغه وکړي چي ملګري ملتونه دیته اړکړي چي دامریکا له سیوري څخه رابهر اوآزادانه پریکړي وکړي شي . په دي شکل سره کیداي شي اسلامي نړي په ارامي اواستقلال کي ژوند وکړي اوکنه تل به دامریکا اوانډیوالانو یي غلام پاتي وي.

په هیواد کی د روانو شخرو مهم ...

پوښتنه : محترم قوماندان صاحب تاسودهیوادروان حالات څنګه ارزیابي کوي اودروانو خونړیوجګړو عاملین ستاسوپه نظرڅوك دي ؟

ځواب : بسم الله ا لرحمن الرحیم

اوسني خونړي جنګ چي زموږ په هیوادکي روان دي اویولړبدبختئي خلکوته راوړي داجنګ هسي یوتحمیلي جنګ دي چي دائتلافي اداري له خوا دافغانستان په مظلوم اولس تپل شوي دي اوددي روانو شخړو یواځني عامل هم دائتلافي اداري دانحصارطلبي غلط سیاست دي . ځکه چي هغه نه غواړي چي دافغانستان مسلمان اولس ته دخپل برخه لیك دټاکلو حق ورکړي اوددوي پدي فکرکي دي چي پدي مسلمان ملت باید صرف یوه ډلګي چي هغه هم دیوي ولسوالي اوعلاقداري نماینده ګي نشي کولاي حکومت وکړي او غواړي چي په همدي ډول دهیواد واقعي مجاهدین چي کلونه کلونه یي دروس دابرقدرت په مقابل کي په میړانه اوشهامت جهاد کړي دي اوبیدي ارمان چي پدي هیوادکي یوواقعي اسلامي حکومت جوړ اوالهي عدل رامنځ ته کړي . له خپل ارمان څخه بي برخه کړي .

پوښتنه : قوماندان صاحب موږ به څنګه وکولاي شوچي په هیوادکي داروانه وضعه ختمه اودیوسوچه اسلامي حکومت په جوړیدو بریالي شو؟

ځواب : زماپه نظرداوسنیو روانو حالاتو دختمیدو لپاره ضروري ده چي دنړي ټول هیوادونه بایدپه افغانستان کي خپلي لاسوهني پاي ته ورسوي اودافغانستان مجاهد اولس دي دي ته پرېږدي چي خپل برخه لیك په خپله وټاکي دوهمه داچي باید ائتلافي اداره نوردقدرت دانحصاردجنون نه لاس واخلي اوپه دي مظلوم اوغم ځپلي اولس رحم وکړي ځکه چي دبي ځایه وینودتوئیدو نه نورهیڅ ګټه هغوي ته په لاس نه ورځيّ ، دویم داچي افغان مجاهد اولس ته په کاردي چي دوطن ددښمنانو ددسیسي دشنډولولپاره یوموټي شي اوهرڅوك چي ددي مسلمان اوباشهامته اولس په برخه لیك لوبي کوي هغوي ته دالهي احکامواونبوي ارشاداتوپه اساس داسي غاښ ماتوونکي ځواب ورکړي چي نوردظلم اوتیري توان ونه لري اوټول هیوادوال باید خپل سرنوشت دانتخاباتوپه وسیله وټاکي زماپه نظرداپواځني لاردفعلي کړکیچ اودجنګ دختمیدو لاره ده .

پوښتنه : تاسودلوي ننګرهاراومشرقي ولایتونوپه ګډون یوه شورالري آیاستاسونظامي ځواکونه هم له یوه ځایه قوماندِه کیږي اوکه څنګه ؟

ځواب : دننګرهارشورا چي دټولو جهادي تنظیمونوپه اشتراك جوړه شوي دنظامي قوتونولارښوونه یي هم په مشترکه توګه دمحترم ورور الحاج عبدالقدیر ترریاست لاندي صورت نیسي اوټول تصمیمونه پدي اړوند داسلامي اخوت اودتفاهم پراساس نیول کیږي .

پوښتنه : تقریباً دیوي نیمي میاشتي راهیسي دهیواد په جنوب لویدیز ولایتونولکه کندهار اوهلمند کي دطالبانوتحریك په نوم یوه ډله راپیداشوي تاسو ددي تحریك په باب څه نظرلري ؟

ځواب : ددي تحریك په باب چي دهیواد په جنوب لویدیزوسیموکي دطالبانو په نوم پیل شویدي په لنډډول داسي ویلي شم چي پدي تحریك کي دخارجي هیوادولاس وهني په څرګندډول معلومیږي اواصلي هدف یي دهغه علماو اوطالبانوبدنامول دي ددي ته داویره راپیداکیږي چي خداي ناخواسته زموږ دګران ټاټوبي افغانستان ځمکني تمامیت په خطرکي وانه چوي .

پوښتنه : محترمه تاسوکه دافغانستان مجاهدینوته څه پیام لري شهادت ورځپانه ستاسو په خدمت کي ده ؟

ځواب : دافغانستان ټولو مجاهدوته زما داپیام دي چي په خپل یوموټیتوب سره ددښمنانودسیسي شنډوي اوداسلامي واقعي حکومت دبرقراري لپاره چي زموږ دیونیم میلیون شهیدانوارمان دي هرډول قرباني ته چمتواوسي . ومن الله التوفیق .

داکتر صاحب گلزار! خدانکند ...

راپیوشاند.بارش راچه کسي بگیرد ؟ شایدسویه صنف شش این جانب سوال مذکوررا حل کرده نتوانسته وشماحتماً راه حلي دارید ؟»

این موضوع آنقدر ساده وبسیط است که اصلاً به جواب دادن ضرورت ندارد زیرا خود سوال درعین وقت حل آنرا باخود دارد واینکه داکترصاحب متوجه نشده وآنرا معما پنداشته وازینده سوال نموده است به جواب آن میپردازم اما قبل ازآن بایدبگویم که حل این مسأله راباید داکترصاحب بهتربدانندزیرااین سوال باطب وطبابت ارتباط نزدیك دارد به این ترتیب که هیچگاه ضرورنیست بخاطر بستن چشم ازدست استفاده نمود چرا که خداوند میخانیکیتي رادرآن گذاشته است که این عمل «بسته نمودن چشم » تحت کنترول عصب ارادي قرارداشته وهروقتي بخواهیم چشم رابندیم به آساني این عمل رامي توانیم انجام دهیم بدون آنکه ازدست استفاده نمائیم . بایدگفت منظور ازبستن چشم این نیست که شخص عملاً چشم خودرابنددبلکه اینست که دیگربه آنسونگاه نکند ونظر به جاي دیگرمعطوف دارد .

هم چنان بستن بیني نیز بدست ضروري نمي باشد زیرا بصورت ارادي اگرشخص مجراي انفي بلعومي رامسدود نماید مي تواند ازطریق دهن تنفس کند بدین صورت همان شخص مورد نظرداکترصاحب میتواند بارش را باکمال راحت حمل نموده بدون آنکه بارش راکسي دیگري بگیرد به منزل مقصودبرسد امیدوارم بااین جواب کوتاه معماي برادر عزیز مان حل گردیده باشد .

اینکه داکترصاحب باوجودي که استاد شان نتوانسته یك نفرشان راقرآن خوان بسازد واقلاً مسئولیت استادي خودرا ادا نماید، ازینده گلایه نموده اند وفرموده اندکه استاد مان مثل شما صدها وهزار هاجوان رادرس وتعلیم داده نباید ایشان رابي کفایت مي گفتید. این گلایه برادر رابه چشم مي پذیرم و معذرت مي خواهم مگرصرف اینقدرمي خواهم بگویم اگر، استادتان مثل من صدها وهزاران جوان رادرس وتعلیم اسلامي مي داد نباید درصنف تان دونفر قران مي خواند وقرارگفته خودتان که آنهاهم ازاطراف آمده بودند که حتمي قرآن خواندن را درصنف شمانه بلکه درمسجدمحله ویاخانه هاي خود آموخته بودند .

وحدت اسلامی ...

، دربوسنیا هرزگوینا جرئت نمیکرد ومرتکب تعرض وحشیانه برچیچن نمي شد. اگرنفت کشورهاي اسلامي ماشین جنگي استعمار گران رابحرکت درنیاورد توان تاخت وتازبرمسلمانان راازدست خواهند داد .

بناءً یگانه عامل موثر براي دفع هرگونه تعرض، تجاوز ودست درازي دشمن موضعگیري متحدانهٔ امت اسلامي زیرلواي اسلام است که میتواند پاسخگووحلال همه مشکلات موجود باشد .

دلغمان ولایت شریفو خلکو په چیچن ...

قوماندانانو، مجاهدینو دروښان

غیر(۱)، (۲) اوشهید روح الله لیسي شاګردانو اواستادانو دلغمان ولایت دستوونکو دروزني عالي موسسي کارکونکو دلغمان ولایت ټولو وسلوالوقطعاتواودځارندویوعمومي قومانداني برخه اخستي وه له مظاهري

کولو وروسته ئي دمهترلام بابا دښارپه مرکزي انګړکي ئي یوه درنده غونډه جوړه کړه .

دغونډي په پیل کي مولوي عبدالصبور وحدتیارچي دمظاهري رهبري ئي هم په غاړه اخستي وه ، مولنا رحمت الله توحید یار ، مولوي سیدامین ، ګجرخان اومولوي رازمحمد داعي، عالمانه اوارزښتناکي وینناوي وکړي اوپه چیچنیانو ئي دروسانومستقیم تیري محکوم کړ.

وروسته دنوموړي ولایت مستوفي محترم حاجي محمد عمر په چیچنیا باندي دروسانو دظلم اوتیري په اړه ریناواچوله او دروسانودا عمل ئي له ټولي اسلامي نړي سره یولوي خیانت وباله اوویي ویل چي باید موږ دچیچنیاله مظلوموسلمانانو سره خپلي هرډول مرستي شریکي کړو .

غونډه دمولوي عبدالصبور په دعاپاي ته ورسیده .

د هیواد د روانو سیاسي حالاتو دسمون په ...

خبرویه یوه برخه کي ئي وویل : که چیري موږ اوتاسودکفري طاقتونوډول ډول فشارونو مختیوي ونکړو نوددي امکان شته چي زموږ مجاهد ملت به دیوبل نوي مصیبت سره مخامخ شي .

وروسي مولوي عزیزالرحمن اومولوي عبدالظاهره‌حقاني، عالمانه وینناوي وکړي اوپرخوال ئي خپلومسئولیتونوته متوجه کړل .

محترم حقاني وویل : زموږ له دي پرتمیني غونډي څخه هدف دادي چي زموږ هره مسئله باید دشرعي احکامو مطابق حل وفصل شي .

ده وویل چي باید دټولي ولسوالي علما له موږ سره دهري فیصلي په صادرولوکي مرسته وکړي ترڅوزموږ مظلوم هیوادوال له ډول ډول مصیبتونوڅخه دخلاصون لاره پیداکړي

محترم حقاني وویل : زموږ غونډي دوام لري موږبه خپلي پریکړي په راتلونکوغونډوکي صادروو .

په آخرکي غونډه په یوولسو بجو او۳۰ دقیقو دمولوي اخلاص الدین په دعاپاي ته ورسیده .

مسکو دزغره والو ټانکونوپه ...

دروس حکومت ادعاکړي چي دچیچن له جمهوریتیس جوهردودایف سره بهرنیوملکونونظامي مرستي پیل کړي دي .

دروییترخبري آژانس وایي :له یلي خوامسکودځان له ویري له مسکونه چارچاپیره زغروال ټانکونه دروليي اونوموړي مرکزئي ترمحاصري لاندي نیولي دي دایتارتاس خبري آژانس وایي چي دمسکو په شاوخواکي دوه دوه زغروال ټانکونه ولاړدي اوترمرکزئي ګردڅخه‌څیرتشکیل کړي دي .

همداراز روسانوځان له ویري په مسکوکي دچیچنیانو نیولو لاس پوري کړي اوپه مسکوکي ئي ځلوروولي چنجنیان نیولي دي چي دنیول شویو کسانو عمومي شمیر تراوسه ندي معلوم شوي .

دتاریخ په اوږدو..

کمبودیاني مهاجرین وایي چي کمبودیاکي دکمونستانو یوبل جنایت داوو چي داکوتهول کلي چي دکا میوج چام په ښارکي پروت وو هم نوموړو کمونستانو تر یوي میاشتي محاصري وروسته په توپونو غلبیل غلبیل ، وران اوویجاړکړ او وروسته ئي دنوموړي کلي جومات چي ددي کلي ۳۰۰۰ اوسیدونکو یکي دجمعي لمونځ اداکاوه وتاړه ، اودجومات ترتړلووروسته ئي دنوموړي کلي ټول اوسیدونکي دجمعي له لمونځونو څخه بند کړل اوله کلي څخه ئي وشړل .

دبحرین حکومت په نوموړي ...

ځیني نورخبري ریوټونه وایي چي یوي ولي احتجاج کوونکودنوموړي هیواد په پایتخت کي دتیري سه شنبي په ورځ په داسي حال کي چي پولیس اوموټرئي په کانوویشتل په یوه لوي احتجاج لاس پورې کړي وو .

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۸۷۸) سه شنبه (۲۹) قوس ۱۳۷۳ هه ش

احکام دین خود رابیاموزیم

داسبابونود زکات حکم :

دتجارت سامانونه هرڅه چي وي په هغه کي زکات واجب دي څه چي موجود وي هغه دي قيمت کړي په هغه نرخ سره چي ګټه ولري فقيرانو اومساکينانو ته ، که چيري نصاب دکال په دواړوخواو کښي پوره وواودمال نقصان يي په مينځ کي ؤ نوزکات تري نه ساقطيږي داسي چي که يوسړي دکال په اول او آخرکښي دنصاب خاوند ؤ خودکال په مينځ کي يي مال تاوان کړي ؤ نو دي به دخپل مال زکات ورکوي. دکال په مينځ کي دمال تاوان له دې څخه زکات نه ساقطوي اوهنداراز پيوست دي کړل شي قيمت درختونو دسروزرواوسپينو زروپوري اوهنداسي دي پيوست کړل شي سره زراوسپين زر په قيمت يوري تردي چي نصاب پوره شي البته داحکم دامام صاحب دملهب دي.

الهي فرمان

که چيري تاسي کفراختيارکړي نو بيشکه الله (ج) بي پروا دي له تاسو څخه او الله خپلو بنده ګانو لپاره کفرنه خوښوي .

او که شکر وباسي نو خوښوي دغه (شکران) تاسو ته اووابه نخلي هيڅ بار اخيستونکي باردګناهو دبل څا . بياستاسو خپل رب ته ورتله دي او هغه څه موچي کول پرهغو به تاسي خبر کړي . بي شکه الله په خبرودزړونه پوهيدونکي دي .

(الزمر – ۷)

نبوي ارشاد

له حضرت ابوهريرة (رض) نه روايت دي چي رسول الله (ص) لعنت ويلي دي په هغه سړي چي دښځو په شان جامي اغوندي او په هغې ښځې چي دسړو په شان جامي اغوندي .

(ابوداؤد)

درجريان دوسال اخير :

(۱۱۸۰۰۰۰) مهاجر از ايران به وطن بازگشته اند

تهران ۲۷ قوس :

جمهوري اسلامي ايران باوجود مشکلات داخلي خود ازمهاجرين افغان پذيرايي مينمايد :

به گزارش خبرگزاري جمهوري اسلامي ، نماينده ايران درديداربا هيئت مرکب ازخبرنگاران اروپائي ورئيس اکادمي وسفــراي سويس واتـريش درتهران گفت : کـــه جمهوري اسلامي ايران بيـــش ازدونيم ملـــيون نفرمهاجرافغان را پناه داده است وملت ايران براساس موازين اسلامي باوجود مشکلات داخلي خويش ازآنهاپذيرايي ميکـنـد . وي افزودکه هم اکنون بيش ازيکونيم مليون مهاجرافغان درمناطق شهري ودهاتي ايران زندگي ميکنند که تاکنون يك مليون ويکصدوهشتاد هزارنفر ازپناهنده افغان طـي سال گذشته وسال جاري بـــه کشورخود بازگشته اند .

دچيچن دجګړو د ويري له امله :

مسکو دزغره والو ټانکونوپه محاصره کی دي

مسکو – دلیندي ۲۸ :

دځوورځـــوراهيسي روســـي غاصبواواشغالګـــرو قواوو دچيچن دجمهوريت په حريم مستقيم تيري وکړ اوتراوسه روسي قواوي دنوموړي جمهوريت دمرکزګروزني په لوريه حرکت کي دي .

وروستني خبرونه وايي چي تن دروس حکـومت پريکړه وکړه چي دچيچن دجمهوريت دمرکزپه لورخپل عمليات چټك کړي په يوه خبرکي ويل شوي چي روسي عسکر دتودسنګرګي اوساپيرپاسيموته رسيدلي دي .

ديوه بل خبرله مخي ويل کيږي چي دروسي هوايي قواوو دګروزني پـه شاوخواسيموکي سختي بمباري کړي او دسيمي اوسيدونکوته ئي درانده تاوانونه رسولي دي دسخـــتوبمباريودکيدوخبره دچيچن لوي درستـيز هم تائيدکړي اوويلي ئي دي چي پدي بمباريوکي (٦) کوروونه ړنګ شوي اويواوسيدونکي هم ټپي شوي دي .

(۷)مخ

دچيچن دولتي سرتيري دخپل هيواد دآزادي اوخپلواکي بشپړتيا څخه ددفاع لپاره په کمروسلو خو قاطع تصميم ،جګړي ته تيارشوي

دافغانستان دجماعة اشاعة التوحيد والسنة مرکزي شورا دننګرهار له جهادي شورا څخه خپل بشپړ ملاتړ اعلان کړ

جلال آباد – دلیندي ۲۸ :

دننګرهارولايت له مرکزجلال آبادښارڅخه دشهادت خبريال خبرراکوي چي دروان کال دليندي دمياشتي په ۲٤ مه نيټه دافغانستان دجماعة الشاعة التوحيد والسنة دمرکزي شوراغړو اميرجماعت محترم ميرسميع الحق صاحب ترمشري لاندي دالجامعة الاسلاميه په انګړکي يوه درنده غونډه وکړه .

خبريال ليکي چي غونډه دقرآن عظيم الشان دځومبارکو آياتونوپه تلاوت پيل شوه، اوپه پيل کي دغونډي برخوالو دنظرتبادلي وکړي اووروسته ئي ديوي اعلاميي په خپرولوسره داسلامي احکامودتطبيق پـــــه لاره کي دننګرهاردوالي اودمشرقي ولايتونو دجهادي شورااله رئيس الحاج عبدالقدير سره خپل بشپړملاتړاعلان کـــړ اوداسلامي قانون دنفاذپه برخه کي ئي دهرډول همکاريوژمنه ورسره وکړه .

د زده کوونکولپاره دالتقوي دليسي په انګړ کي يو تربيوي کنفرانس جوړشو

پيښور د ليندي (۲۸)

له پيښورښار څخه دشهادت خبريال خبر راکوي چي دهجرت په ساحه کي دالتقوي ليسي دمهاجرينو ته دخدمت په خاطر يو لړ علمي ،ثقافتي اوتربيوي کنفرانسونه دزده کوونکو دسويي دلوړولو لپاره پيل کړي چي دکنفرانسونو پدي لړي کي هم دنيري سه شنبي په ورځ له غرمي وروسته د نوموړي ليسي په انګړ کي يوبل تربيوي کنفرانس جوړشو

خبر يال ليکي چي په پيل کي د قرآن عظيم الشان څو مبارك آيتونه ولوستل شول اووريسي دنوموړي ليسي سرمعلم محترم رضوان الله دنوموړي کنفرانس په هکله معلومات وركړل.

خبر يال زياتوي چي وروسته دنوموړي ليسي داستادانو په نمايندګي يو استاذ مفصلي خبري وکړي او وريسي د کنفرانس ويناند عبدالحميد اوهمداسي نورحسن "غازي " هارون الرشيد نجم الدين ،دلاورنوزي ،فريد الله ، وحيد الله نيازي ،ميرويس ، سراج الدين ،رفيع الله ،کفايت الله اواستاذ تحسين الله خاکسار ترائي ، مقالي اونعتيه کلامونه ورانديّ کړل په آخرکي غونډه دنورحسن په دعا پاي ته ورسيده .

در دومين کنفرانس "رشد صحت عامه درمنطقه"

رئيس منطقوي سازمان صحي جهاني از کمک طبي ايران به افغانستان سپاسگذاري کرد

عمان – ۲۸ قوس .

جمهوري اسلامي ايران در سال جاري ميلادي ته مليون دوز واکسين فلج اطفال ومحرقه به اطفال افغانستان هديه کرده است .

دوکتورحسين الجزائري رئيس منطقوي سازمان صحي جهاني پس از شرکت دردومين کنفرانس رشد صحت عامه درمنطقه . بابيان اين مطلب درعمان از اين اقدام انسان دوستانه جمهوري اسلامي ايران اظهارسپاس کرد .

به گزارش خبرگزاري جمهوري اسلامي وي افزود تيم هاي طبي وابسته به اين سازمان با همکاري دولت ايران عمليه واکسين فلج ومحرقه اطفال را به پايان رسانيده اند.

داکترالجزائري علاوه کرد که سازمان صحي جهاني نيز نماينده گي هاي در شهر هاي جلال اباد ، هرات ،مزارشريف وقندهارباز کرده است.

يمن وعربستان سعودي بخاطر حل اختلافات سرحدي شان کميسون مشترك تشکيل ميدهند

يمن – ۲۷ قوس :

رئيس جمهوريمن اعلان کردکه به منظوربررسي اختلافات سرحدي بين يمن وعربستان سعودي کميسيون مشترکي تشکيل خواهدشد .

به گزارش خبرگزاري فرانسه اين درحالي است که عربستان سعودي اعلان کرده که نيروهاي يمن دراوائل برج جاري باورود به خاك اين کشوريك نفررا به هلاکت رسانيدند .

صنعانيز دراوايل ماه جاري رياض رامتهم کردکه چند پوسته امنيتي رادرخاك يمن احداث کرده است .

خبرمي افزايد که يمن وعربستان سعودي برسرمناطق مـــرزي ميان دوکشور که بـه موجب موافقتنامه سال ۱۹۳٤ تحت حاکميت رياض قراردارد، اختلافات ديرينه دارند .

دولت صنعاميگويد که اين موافقتنامه درتابستان سال ۱۹۹۳ ميلادي پايان يافته وعربستان سعودي حاضربه تجديد آن نيست .

رئيس جمهوريمن هفته گذشته دراجلاس سـران کشورهاي اسلامي دردارالبيضا باوليعهدعربستان سعودي ديدارنمود ودرمورد مسائل سرحدي باوي گفتگو کردکه نتايج آن تاحال اعلان نه گرديده است

از ماه نومبر تا حال

نيروهاي امنيتي الجزاير (۲۹) مسلمان مبارز را به شهادت رسانيده اند

الجزيره :

مقامات امنيتي الجزاير ميگويند بيست ونه نفر از مظنونين به عضويت در گروه هاي مسلح اسلامي رادرعمليات چندروز اخيرکشته ويازخمي نموده اند. دراعلاميه آمده است که افرادمتذکره درالجزيره پايتخت اينکشور ودرچند شهرديگرکشته شده اند .

قراراظهارات مقامات امنيتي ازآغازماه نومبر حدود چهارصدمبارز مسلمان توسط نيروهاي امنيتي به شهادت رسيده اند اما مبارزين الجزايري اين خبررا ردنموده ميگويند که تعدادشهدابه اندازه يي نيست که مقامات دولتي اعلان ميکنند .

هند درتلاش...

طبق گزارش، بدارکماررئيس هيئت هندي حين عزيمت به کابل دردهلي پايتخت هنداظهارداشت کـــه او وهمکارانش علاوه برساير مصروفيت هاي شان درکابل، بازگشايي سفارت هنددرين شهررا مــورد مطالعه قرار ميدهند . وي کــه يکي ازکارمندان عاليرتــبهٔ وزارت خارجهٔ هندميباشد درمورد تاريخ دقيق بازگشايي سفارت و اهداف اصلي ماموريتـــش درکابل چيزي نگفت اما تحليلگران سياسي معتقداند اينگونه رفت وآمدهاميان هندي ها وهواداران ادارهٔ ائتلافي ازمدت ماقبل جريان داشته که ازجمله سفرهاي مخفيانهٔ مسعود وبرخي سران ديگراين اداره به دهلي ومقامات هندي به کابل درهمين راستا است . مقـــامات هندي مداخله درامور افغانســـتان را رد مينمايند اما تجاراني که ميان کابل ودهلي رفـــت وآمددارند ميگويند نظاميان هندي را درميدان هوايي بگرام مشاهده کرده اند ودرميان اموال تجارتي آنهاپرزه جات نظامي به کابل انتقال ميابد .

جنګ در بيهاج ...

خبرمي افزايد درحاليکه مناطق مسکوني شهربيهاج زيرآتش سلاح هاي سنگين صرب ها قـــراردارد پس ازچهارهفته مقاومت قسمت هاي ازين منطقه به اشغال نيروهاي صرب درآمده است.

منابع سازمان ملل درسرايوو به نقل ازشورشيان صرب اعلان کردندکه اين شهرازچهارطرف تحت محاصره صربها قرارداشته عنقريب نيروهاي صربي برآن مسلط خواهندشد .

گزارش حاکيست که تاهنوزهم مبارزين مسلمان دربرخي ازنقاط به مقاومت خويش ادامه داده اند وجنگ تن به تن وخانه به خانه درين محلات جريان دارد .

دراثرانفجار دريکي ازتاسيسات برق درالجزاير

شهرهاي الجزيره وبليده درتاريکي فرورفت

الجزيره – ۲۷ قوس :

شهرالجزيره پايتخت الجزاير وشهر بليده درشمال اين کشوربه تعقيب وقوع انفجارشديد دريکي ازتاسيسات برق اين کشور،درخاموشي مطلق فرورفت .

به گزارش خبرگزاري هاقطع برق براثر حملهٔ نيروهاي مسلح به اين تاسيسات صورت گرفته است .

مقامات الجزايري تاکنون توضيحي درين مورد نداده اند .

دننګرهار دلومړي لمبر قول اردو دتخنيك آمريت

د ګندمك دکلي دجومات په جوړولو کي (۲۰۰۰۰) افغاني مرسته وکړه

جلال آباد – دلیندي ۲۸ :

دننګرهار ولايت دلومړي لمبرقول اردو دتخنيك آمريت خبرراکوي چي پدي وروستيوورځوکي دنوموړي امريت آمرمحترم الحاج فلك ناژدګندمك کلي دحضرت بلال (رض) دجومات دبياودانولو لپاره له نوموړي کلي سره (۲) لکه افغاني نقده مرسته وکړه .

خبرځاي ليکي چي دګندمك دکلي اوسيدونکو نوموړي مرسته في سبيل الله مالي قرباني وبلله اومرسته کوونکي اداري ته ئي لهٔ لوي خداي (ج) څخه داجرعظيم دعاوکړه اومغفرت ئي ورته وغوښت .

دمتحده ايالاتو اوپاکستان ...

دوزارت معـــين بلوايد اوپاکستان دطبيعي زيرمـــووزيرانورسيف الله حاضرو.

بالوايدداترونونه دامريکادمتحده ايالاتو اوپاکستان دانرژي په چاروکي دوامداره پرمختګ يللي دي.

داترونونه په اسلام آبادکــي دامريکا دمتحده ايالاتواوپاکستان دکمپنيوله خواله شـــپرووړوځوخبرواترو وروسته لاسليك شول .

خبري منابع وايي چي دلاسليك په مراسمو کـي دمتحده ايالاتودانرژي

اعلان مفقودي

شيرحسن ولدخان محمد مسکونهٔ ولايت کنرولسوالي اسمار عـــلاقداري دانګام قريهٔ کارکوت کــه به سراغ خانزرين ولدشاه زرين مـسکونهٔ ولايت سمنګان ولسوالي خلم رفته بود از مدت يکسال وچندماه بـــه اينطرف مفقودالاثرمي باشد، کسانيکه مذکوررا سراغ داشته باشند به آدرس ذيل اطلاع دهند : پشـــاور، پبي ، کمپ جلوزي، پوهنتون دعوت وجهاد ،اميراحمد محصل صنف دوهم پوهنځي ادبيات .

شهادت

پيانګرعنايدوارمان،اي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : المهندس حکمتيار

ناشـــر: رياست ارشاد وفرهنګ

تحت نظر هيئت تحرير

آدرس : جلال آباد چکنوري

حساب بانکي : ۸۵۲٦٤ دافغانستان بانك

ټيلفون : ۲۹۲٦

آدرس پستي : ۱۰۳٦ يونيورسټي ټاون پشاور

اخبار کوتاه جهان

پنج قدرت هستوي وچهارکشورديگر به طوراصولي توافق کرده اندکه مقدارپلوتونيم خودرا که درمقاصدغيرنظامي بکارميبرند دراختيارآژانس بين المللي انرژي هستوي قراردهند .

قدرت هاي هستوي به بهانه حفظ اسرارنظامي ازافشاي ذخايرپلوتونيم که درسلاح هاي هستوي ازآن کارگرفته مي شودامتناع ورزيده اند .

***

بوسنيايي صربانو دپرون ورځ دسرايوو دهوايي ډګرپوه برخه آزاده کړه اوملګروملتودرپوالوتکوته ئي اجازه ورکړه چي په تيرودريو اونيوکي دلومړي ځل لپاره دغه ډګرته ورننوزي .

له بلې خوا دملګروملتونويوه وياند ويلي چي په جارکي دننه بوه ښځه چي دخپل کرچني زوي سره راوتلي وه په غلچکيوډزوکي ووژل شوه.

***

ادارهٔ خدمات بشري امريکا که وظيفهٔ حفاظت کلنتن رابه عهده داردتائيد کردکه يکي ازچهارمرمي که برقصرسفيد فيرشده بود در داخل عمارت قصر اصابت کرده است .

ازماه سپتمبر به اينطرف اين سومين واقعه ناآمني قصرسفيدميباشد .

***

دامريکادبهرنيوچارو وزارت ټولوامريکائيانوته خبرداري ورکړي چي دروسيي دقفقازسيمي اوپه خاص ډول دانګشيا،چيچني اوشمالي اوسيتياجمهوريتونوته سفرونکړي .

***

وايس من رئيس جمهوراسرائيل وارد مصر شده است که اين اولين ديداريك رئيس جمهوراسرائيل ازمصر دردهه گذشته اخير است.

مقامات اسرائيلي ميگويندامپدواراندسفردوروزه وايس من باعث بهبودروابط دوکشورشود.

دسرمقالي پاتي برخه

مليشـريرله بله ځوکسان وژلي، اودغه شان ځوکوچني کوچني متعددي ښځي چي راغونډي شي ، تودايتلاف چينجوخوړلي ډډبه ددي مقاومت ونه لري، چي پرځاي پاتي شي دايتلاف دسرسخت دښمن ځواك دهماهنګي دعالي شوراخبره خولابيله ده . دهماهنګي دعالي شورادچټك پرمختګ ربړه ده ، چي مسعودوارخطاشوي، اواوس غواړي، چي دجبل السراج دساتني لپاره دسالنګ لوي تونل والوځوي. دسالنګ دتونل الوځول که څه هم ستره پيښه ده ،او له دي رنځيدلي ملت سره جفاده، خويه اصل کي مسعود هغه انقلاب دښمنه څيره ده ، چـــي تردي بي نورهم ډيرجنايات کړي ، اوکه داکاريي هم وکړ ، نوورسره پدنه ښکاري . مسعود پوهيږي،چي په بغلان کي دهماهنګي دعالي شورا پرمختګ چي دااوس يي هم دايتلاف دوه مستحکم سنګرونه فتحه کړي، ډيرزربه ددي لامل شي،چي پروان ته راورسي، اوچي په پروان کي مجاهدين اوولس دمسمرداله خپلــريونه پوزي ته راغلي، نويه يوه سرتاسري پاڅون به دشمال له خواهم دهماهنګي دشورا جنګيالي دايتلاف دروازي وټکوي. خودايتلاف سردمداران ددي پرځاي چي نورهم ملت وځوروي، دابه ورته ښه وي، چي دسولي لاروښيي. پدي وروستيوکي دافغانستان دجهاد ديوه محسن جنرال حميدګل دسولي مخلصانه هلي ځلي هغه چانس دي، چي ايتلاف کولي شي ،له دغي اړخه ځان له متوقع رسوايي نه بچ اودمجاهدملت ارادوته تسليم شي. ځکه که ايتلافي رژيم هرڅومره له بهرنيو منابعوته تقويه اوملاترشي،خوچي په ملت کي بي ريښي خوري نه وي، ټينګيدلي نشي. زموږ ددي دعوي ښکاره ثبوت کمونيستان دي، چي سور پوځ يي بالفعل ترشاودريد، خوهيڅ ګټه يي ونه کړه . اوکه دايتلاف مشران نورهم پخپل ضد ودريږي ،نوزمونږباوردي ،چي په ډيري رسوايي به دمجاهدملت محاکمي ته راکش اوبيا به يي دڅغورلوهيڅ وسيله اغيزمنه نه وي، اوبيوځل بيا به يي دســـولي وړانديزونه نقض اودمجاهدملت ډيرخليك سودابه بي کړي وي .

آګاهي

طيارات شرکت هوائي آريانا بروزهــــاي پنجشنبه به کابل، تاشکندومسکوپروازميکند.

لطفاً جهت ثبت نـــام يك آن اولتربانماينده ګـي «سونګ ايرتربولزايندتورز» واقع ايستګاه موترهاي شهري تماس بګيريد .

نمبر تيلفونها: (۳۷- ۸٤۱۰۳٤) (۸٤۰۸۰٤ – ۸٤۱۰۳۷)

مژده به مريضان چشم

«کلينيك نور» که باوسايل مدرن وپرسونل ورزيده شفاخانه نورسابقه مجهزمي باشد، تازه بکار آغازنموده است ، مريضان چشم مي توانند ازتسهيلات آن مستفيد شوند .

آدرس : جمرود رود – ايستګاه بورد – متصل کلينيك سينا

اوقات کار : (۸) صبح الي (۲) بعدازظهر